# ګاندي

څلور یا پنځه کاله د مخه د ځینو ملګرو په خوښه دې ته حاظر شوم چې خپل ژوند لیک ولیکم.ما پیل وکړ،خو لا یوه پاڼه می سمه اړولې نه وه چې په ممبی کې اله ګوله او اړ دوړ جوړ شو او دا کار همداسې په ټپه ودرید. له هغی نه وروسته ځینې نورې داسې پیښې وشوې چې زه یې دیرواده زندان تر مرتبه ورسولم.

اس.جې.تي جرمداس څوک چې له موږ سره هلته انډیوال بندی و ما ته وویل چې هر څه نور باید یوې خوا ته کیږدم او خپل ژوند لیک بشپړ کړم. ما وویل،ما ځان ته مخکې له مخکې د زده کړې پروګرام چوکاړ کړی دی او مې چې دا کورس خلاص کړی نه وي په بل شي فکر نه شم کولای.

په رشتیا چې باید مې د خپلې دورې تر بشپړیدو پورې ژوند لیک خلاص کړی وی. د بند دورې تر آخره لا یو کال پاتی دی چې دا وړاندیز تر سره کړم. لکه څنګه مې چې د ستیاګرا تاریخچه خلاصه کړیده په جنوبي افریقا کې،دی ته حوسیږم چې [نوا جیون]لپاره د ژوند لیک کار په غاړه واخلم.

[ سوامي] غوښتل چې دا په جلا توګه د کتاب په بڼه د نشر لپاره ولیکم.خو زه ډیر وخت نلرم. ما کولی شو چې اونۍ په اونۍ یوه څانګه ولیکم د[نواجیون] لپاره باید هره اونی یو څه ولیکل شي، ولې باید دا ژوند لیک نه وي؟ سوامي دا وړاندیز ومنلو،دا دی چې دلته سخت په کار بوخت یم.

خو له خدایه بیریدونکی ملګری مې په دې کې شک لري،چې له ما سره یې زما د چوپتیا په ورزیې ګډه کړه . څه شي په دې کار نامې پسې کینولی یې؟هغې پوښتنه وکړه.

د ژوند لیک عمل یوازې لویدیځو پورې ځانګړی دی زه په ختیځ کې څوک نه پیژنم چې داسې شی یې لیکلی وي. پرته له هغو چې د لویدیځ تر تأثیر لاندې راغلي وي.

او ته به څه ولیکې؟ ګومان وکړه چې سبا دغه کړن لاره نه منې په کومو بنیادونو چې نن باور لرې، یا په راتلونکې کې د نن پلانونه کره کړی. یا داسې امکان نه لري چې په راتلونکې کې خلک ستا د ویلو یا لیکنو په رسمیت تنظیم شي او په غلطه به روان وي؟ فکر نه کوې چې بهتره به وي چې اوس مهال هیڅ ونه لیکې؟

دغه استدلال په ما یو څه اغیزه درلوده. خو دا زما نیت نه دی چې یوه رشتیانی د ژوند کیسه ولیکم. په ساده توګه غواړم هغه کیسه ولیکم چې ما پکې رشتیا ازمیلې ده، او لکه څنګه چې زما ژوند همدغو تجربو نه غیر بل څه نه تشکیلوي.

دا رشتیا ده چې دا لیکنه به د یو ژوند لیک بڼه واخلي، خو زه باید ددې پروا ونه کړم که څه هم هره پاڼه به زما د تجاربو په هکله خبرې کوي. ره باور لرم او په هیڅ کچه ځان پدې باور نه پورته کوم چې له دې تجاربو سره تړلي ټول حسابونه به د لوستونکي لپاره بې ګټې نه وي. زما تجربې په سیاسي ډګر کې اوس پیژندل شوې دي.
نه یوازې په هندوستان کې بلکه تر یو حده متمدني نړۍ ته هم. دا زما لپاره ډیر ارزښت نه لري، او د مهاتما(ستر)لقب یې چې زما لپاره ګټلی نور هم بې ارزښته دی. دغه لقب زه ډیر وخت دردولی یم او دا هم په یاد لرم چې ځیني وختونه یې خندولی یم.

له باور سره باید دغه کیسې او تجاربو ته روحاني او مذهبي بڼه ورکړم، چې یوازې ما ته معلومه ده، له کوم څخه چې ما دا قوت تر لاسه کړی دی او اوس یې په سیاسي ډګر کې لرم.

نو که چیرې دا تجارب روحاني وي بیا د ځان صفت کولو لپاره دلته هیڅ ځای نه شته، دا به یوازې زما په شرمندګۍ نور هم بار شي. ما څه غوښتل لاس ته راوړم او په تیرو دیرشو کلونو مې د څه لپاره هڅه او کوښښ کولو،هغه ځان پیژندنه وه چې موکشا (خدای ته نژدې کیدل یا له خدای سره لیدنه)ته ورسیږم.

ما ژوند کړی خوزیدلی یم او ځان مې د همدې هدف په لوري بیولی دی. ټول هغه څه چې وایم یا لیکم یا زما د سیاسي ژوند هلې ځلې دي ده همدغه یو مقصد او هدف د پا ی په لوري دي.

په تیرو دیرشو کلونو کې څه چې ما کړي او هغه څه چې زه غواړم تر لاسه کړم هغه موکشا ده(خدای ته نژدې کیدل یا خدای سره مخامخ کیدل) په بل عبارت ځان پیژندنه ده. زه دا ټول عمر یوازې د همدغه یو مدعا لپاره خوځیدلی یم. ټول هغه څه چې زه لیکم، وایم او په سیاسی مبارزه کې چې له کومو ناخوالو تیریږم هدف یې هماغه ځان پیژندنه یا موکشا ده. خو مدام ما په یوه خبره پوره باور ساتلی دی چې که یو شی یا کار یو ته امکان لري هغه ټولو ته امکان لرلی شي.

زما تجربې په کومه پټه الماری کې نه دي تر سره شوي بلکه په ورایه د عامو په منظر کې او زه فکر نه کوم چې دا زما له ژوند او کار څخه روحانیت کم کړي. داسې ځیني خبرې شته چې په هغې یواځې خپله شخص او د هغې خالق پوهیدی شي چې نورو ته یی بیان نشي کیدی.

تجربې کومې چې زه پرې خبرې کوم داسې نه دی چې روحاني نه دي خو زه به ورته وجداني نوم ورکړم: د مذهب ورمه وجدان ده. یوازې هغه مذهبي مسایل به په دې کیسه کې شامل وي کوم چې د یو ماشوم او رسیدلي سړي ذهن یی په یو شان اخیستی شي. که چیرې وشم کولی بې جذباتو او بې غوروره دا کیسه بیان کړم کیدی شي د نورو مبارزاتو او تجربو لپاره د پیل الحام شي. زما مثال به لکه یو ساینس پوه وي چې د خپل امکاناتو او توان پورې یوه تجربه کوي. ما خپل ځان د نورو خلکو حالات او خپل موجوده موحیط ډیر ژور په رواني او نورو لارو څیرلی او سنجولی خو بیا هم د خپلو تجاربو د پایلې یا بریا په هکله نه څه ویلی شم او نه وایم چې ډاډه یم. خو یوه خبره چې په ډاډ کولی شم و وایم هغه داده چې زما مبارزه او تجربه د اوس وخت د پاره په ځای او سمه ده. که چیرې سمه نه وی نو د هیڅ ډول عمل او ورپسې ورتلو حاجت نه و او نه ور پسې ورتلم. په دې دوران کې زه له داسې

مراحلو تیر شوی یم چې پکې قبلول او ردول د مختلفو مسایلو راغلي دي، که چیرې دغو مسایلو او تړونونو زما وجدان او ذهن نه وی ډاډه کړی ما به نه وی کړي. زه باید د خپل سنجش د پایلې سره هم شان مخ ته لاړ شم.

که چیرې ما غوښتل چې یوازې اکادمیک اصول مطرح کړم ما باید ژوند لیک نه وی لیکلی. خو دهغو مختلفو ریښتینو پیښو او پرنسیپ چې په دې لیکنه راغلي او د لیکنې اصلي کیسه ده ، زه دې لیکنې ته نوم ورکوم : زما په ژوند کې د ریښتیا آزموینه . کوم شیان چې دلته به یې ذکر وشي هغه عبارت دي له، از آزموینه د عدم تشدد،لونډتوب او هغه ځینې اخلاقي چلندونه او چارې چې بنیاد یې ریښتیا او انسانیت دی. زما په نظر رښتیا هغه خپلواکه قوت دی چې ادراک دی د نورو قوتونو او فکرونو.

کومه ریښتیا چې زه یې ذکر کوم هغه یوازې د الفاظو یا کردار نه بلکه په دهن او په زړه کې د هغه احساس او پالنه ده، مطلقه رښتیا، پاکه رښتیا او همدغه رښتیا ده چې کولی شو ورته خدای ووایو. لکه څنګه چې د خدای نومونه ډیر دي همداسې یې تاریفونه هم ډیر دي خو زه یې د رښتیا په نوم پیژنم او عبادت ورته کوم. د خدای نوم او مختلف تعریفونه مې هر وخت هیرانوي او کله مې مدهوشه یا بې هشه کړي خو زه پوهیژم چې خدای شته او خدای حق دی خو ما تر اوسه نه دی موندلی او زه یې په لټنه کې بوخت یم. زه دې ته چمتو یم چې خپل ډیر عزیز شیان په ژوند کې قرباني کړم چې د خدای په لټولو کې پاتې دانشم. حتا که زما زوند هم پکې ولاړ شي. خو تر څو چې د اوچتې مرتبې د رښتیا لمر ګورم زه په ژوند کې به د رشتیا څراغ د لارې مل او لارښود وي.

که څه هم دغه لاره تنګه او تیره لکه چاړه ده خو زه باور لرم چې تر ټولو ښه او چټکه هم ده. همدا وجه ده چې په ژوند کې مې وړو یا غټو تیر ویستنو یا ختاګانو هم افسوس یا خپګیان ته نه یم پریښولی او د رښتیا څراغ مې تعقیب کړی او څومره چې مخ ته تللی یم هومره مې ایمان او تینګ شوی چې خدای په رښتیا هم په ریښتیا موندی شي. پریږده هغه خلک چې غواړي وپوهیږي په ما څه تیر شوي یا په کومو بنیادونو زه رښتیا ازمایم ولولي او زما تجربې په خپلو کې شریکې کړي. ما دا مخکې هم وویل چې زه تل په دې آند یم چې کوم شی ما ته د امکان وړ وي هغه یو ماشوم ته هم امکان لري. روښنایي ته رسیدل او په دې لاره کې د تجربو پوره کول یو مغرور ځانمني ته کیدی شي ناممکنه وي خو یو ماشوم ته ډیر آسانه. روشنایي ته رسیدو لټونکی باید مات او متواضع اوسي. په متانت او پاکې سره کیدی شي چې رڼایي ، ریښتیا او خدای ته ورسیږو، دغه نظریه د وانیشتا او وامیشوامیترا تر منځ خبروکې واضع ده او هم د اسلام او عیسویت دینونوکې په لویو ټکو ښکاره بیان.

که چیرې لوستونکي ته زما په خبرو کې د امتیاز یا غرور کومه شیبه تر سترګو شوه نو زه یې باید داسې وګڼم چې زما په تګلاره او نظر کې له ما تیر وتنه شوې او یا هم زه غلط یم. او ما ته په ژوندانه کې چې د رڼا کومې وړانګې ښکاره شوي دي زما د زړه او سترګو د د لید تیر وتنه وه. پرې چې په سلګونو لکه ما له دونیا ولاړ شي خو ژوندی دې وي رښتیا. زه هیله لرم او دوعا کوم چې زما کړې خبرې، نسیحت او کیسې په دې کتاب کې خلکو ته د مقتدره او منل شوي کړنلارې په توګه نه بلکه زما د کړو تجربو یو تصویر وګرزي او هغوي په خپل ژوند او تګلاره کې ورڅخه د شرایطو او د حالا د غوښتنې متابق په بله ښه ګټه واخلي او یا یې وکاروي ځکه په دې لیکنه کې به هغه بدرنګه او خرابه شیانو ته ځای ورنکړم چې باید وویل شي. زه هیله لرم چې لوستونکي ته د خپلو تیر وتنو او پاتیتوب پوره بیان ورکړم. زما موخه داده چې خپلې تجربې د عدم تشدد په چوکاټ کې بیان کړم. دا نه چې

خپل صفت وکړم چې زه څومره ښه سړی یم. د ځان په قضاوت کې باید هومره تریخ اوسم لکه کله چې رښتیا وي، لکه څنګه چې له نورو مې هم همدا غوښتي. ځان په دې کچه اندازه کولو کې باید د سورداس دغه نغمه ووایم.

Where is there a wretch
So wicked and loathsome as I
I have forsaken my maker
So faithless have I been
(که چیرې څوک بې وزله او کمزوره شته)
(ما په شان بد مرغه ګنا کاره شته)
(پریښی مې خالق دی خپل)

(زه څومره  بې ایمانه یم)

دا زما لپاره یو عذاب دې چې اوس هم له خپل خالق څخه دومره لرې یم که څه هم پوهیږم چې همدا اوس هم زما د ژوند هره شیبه او هر ه سا چې اوباسم د هغې اختیار او فرمان دی. زه دوعا کوم چې موږ مخلوقات دې خدای له شیطاني اعمالو وساتي  په ښه لاره او چاره مو دې سم کړي، هغه لاره چې هغه پکې انعام راکړي او  هغه ته نږدې وي. زه باید دوعا ګانې بس کړم، دا پانه وتړم او په راتلونکي څپرکي پیل وکړم کومه چې ددې کتاب مضمون دی .
م. ک. ګاندي

اشرام سبرماتي د نومبر د میاشتې ۲۶ .۱۹۲۵

## لومړۍ برخه

## ختم او پیدایښت

ګاندیان د هند د بانیه فرقې پورې تړلي دي چې اصلاً په خپل وخت کې د خوراکي توکو پلورونکي وو. خو له درې پوښته را په دې خوا زما له غور نیکه څخه راواخله دوی د کتیاوالا د ایالت په جلا ولایتونوکي وزیران تیر شوي. اوتمچند ګاندي، الیاس اوتا ګاندي،زما نیکه و او حتمناً د پرنسیپ او اصولو سړی و. حکومتي دسیسی دې ته مجبور کړ چې د پوربندار ولایت پریږدی، چیرې چې هغه دولتي چارواکی و او په جوناګاد کې پناه واخلې. کله چې هلته ولاړ د هغه ځای نواب ته یې په کین لاس سلامي ووهله نو کله چې د هغه ورته پام شو او پوښتنه یې ورڅخه وکړه چې ولې کین لاسې سلامي هغه ورته وویل: زما ښي لاس یوازې پوربندار ولایت ته سلامي کړې ده.

اوتا ګاندي د دویم ځل لپاره واده وکړ، لومړۍ میرمنه یې مړه وه او له هغې یې څلور ځامن لرل، له دویمې میرمنې څخه یې دوه ځامن . زما په ماشومتوب کې کله هم نه یادیږي چې ما کله داسې احساس کړی وي یا هم پوه شوی اوسم چې دغه ځامن د اوتاګاندي له بلې میرمنې وي. پنځم له دې شپږو ورونو کرمچند ګاندي، الیاس کبا ګاندي، او شپږم تولسیداس ګاندي .

دواړه دا ورونه د پوربندار وزيران وو، يو د بل پسې. کبا ګاندي زما پلار و. هغه د راجستانيک محکمې غړی و کومه چې اوس له منځه تللې. خو په خپلو ورځو کې داعتبار وړ قضايه سيستم و چې د ملکانو او ولسي وګړو تر منځ يې داوې او مسلې اوارولې. هغه يو مدت د راجکوټ او بيا د ونکنر وزير تير شوی دی. کله چې مړ شو د راجکوټ ايالت ورته تقاوتي ورکړه. کبا ګاندي پرله پسې څلور وادونه وکړل البته هر ځل د ښځې له مړينې وروسته. هغه له خپل لومړي او دويمې ميرمنې څخه دوه لوڼې درلودې. د هغې وروستی ميرمنې، پوتله بای، ورته يوه لور او درې ځامن راوړل چې زه يې تر ټولو کمکی يم. زما پلار به خپل قوم او نسب ډير مين، ريښتينی او سخي سړی و. خو کم اوسيلې او يو څه قهرجن. که څه هم د خوښی او خوند پکې ځينې علامې وې ځکه چې مخکې له پنځوس کلنې يې څلور ځله واده کړی و خو په ايمان داري او صداقت کې يې په کور او کلي کې نوم درلود. د هغه وفاداري خپل ايالت ته نوم درلود. يوه ورز يوه سياست وال مشاور د راجکوټ د ټاکور صاحب په هکله سپکې سپورې وويلې او زما پلار يې مخ ته ودريد او په غوسه شو ورته ، مشاور ورته وويل چې بخښنه وغواړه د ی په خپل خبره ولاړ او او بخشنه يې ونه غوښتله هغه يې د يو څو ساعتونو لپاره بندي کړ خو کله چې چارواکي وليدل چې کبا ګاندي نه ماتيدونکی دی خوشې يې کړ.

زما پلار هيڅ وخت د جايداد او مال د بډايولو عادت نه لرلو نو ځکه موږ ته يې هم ډير څه پرې نه ښول. هغه د پام وړ زدکړه نه وه کړې يوازې په ګوجراتي يې تر پنځم ټولګي تارخ اوجغرافيه لوستې وه. خو د هغه د عملي کار تجربه او استعداد هغه په دې توانولی و چې د سلګونو کسانو د چارو اداره او پالنه وکړي. مذهبي تعليم يې ډير کم و. هغه يو ډول مذهبي کلتور درلود لکه معبد ته تګ يا مذهبي غونډو کې چې ډيری هيندوانو به کول ګډون درلود. په وروستيو ورزو کې يې د ګيتا لوستل پيل کړل هغه هم کله به چې زموږ هيندو ملا کور ته راغی او هره ورز به يې ځينې آيتونه د عبادت په وخت په جګه ويل. زما د مور ځانګړې انداز او تاثير کوم چې زما په ذهن کې تر اوسه پاتې دی هغه د وليانو او روحاني ښځې انداز او څيره ده، هغه ډيره مذهبي ښځه وه.

هغه به پرته له لمانځه او ورزني عبادت څخه ډوډۍ نه خوړه. د ويشناوا معبد ته تګ يې د هرې ورزې کار و. تر کومه ځايه چې زما يادېږې هغه هيڅ وخت هم چتورمه ( د هندوانو مبارکه جشن لکه په اسلام کې روژه) نه ده قضا کړې. هغه به تر ټولو سخته نذر او ژمنه وکړه او په ډير پراخه اوچلي به يې ساتله. په ناروغۍ او سختيو کې يې هم خپله ژمنه او روژه نه ماتوله. زما پيادېري يوه ورځ يې چندريانا کوله( د سپوږمۍ ليدنه مخکې له روژه ماتې) چې راپريوته خو درد ورته ټينګ نه شو تر څو يې چې خپل عبادت پوره نه کړ. پرله پسې درې څلور روژې نيول ورته ډير ستونځمنه خبره نه وه. د ورزې يو وخت ډوډۍ خوراک به يې کولو کله به چې روژه وه. يوه روژه يې داسې نذر ونيو چې تر هغه به ډوډۍ نه خوري تر څو يې لمر نه وي ليدلی. موږ ماشومان به په هغه ورځو کې ودريدو او آسمان ته به مو کتل تر څو پرې د لمر زيری وکړو. هر يو په دې پوهيږي چې د باران په موسم کې لمر تر ډيره ځان نه ښکاروي نو کله به مو چې د لمر يوه وړانګه وليده په منډه به مور ته ورغلو او خبر به مو ورکړ هغې به کار پرېښود او باندې به راوتله تر څو يې په خپلو سترګو وګوري . خو داسې هم شوي دي چې د ير ژر ورېږو لمر پټ کړی،هغې به موږ ته قار هم نه کاوه او ويل به يې پروا نه کوي کيدی شي خدای غواړي چې نن هم ډوډۍ ونه خورم، او بيرته به خپل کار ته ولاړه.

زما مور ډېر قوي مانوس یا عمومي پوهه لرله هغه د ایالت له چارو مدام خبره وه د قضا شځینه غړو او نورو یې ډېر احترام کاوه. د ماشومتوب له برکته زه به ډېر وخت ورسره بدرګه وم. زما د هغې ډېرې خبرې له خلکو سره پیاد دي په تیره د ټاکور صاحب له کونډې مور سره.

زه له داسي مور او پلار څخه د اوکتوبر د میاشتې په ۲ کال ۱۸۶۹ په پوربندار کې چې په بل نامه سوداماپوري هم یادیږي وزیږیدلم. ما خپل ماشومتوب په پوربندار کې تیر کړ. زما پیایري چې ښونځي ته یووړل شوم. په یاد لرم چې ریاضي کې مې ډېره ستونځه درلوده او سبق به مې له نورو هلکانو سره په ګډه زده کاوه. دا چې د هغې دورې ډېر څه مې نه دي په یاد له مالومیري چې حافظه مې هغه وخت خامه او هوښیاري مې هم ډېره سسته وه.

## ماشومتوب

زه به وه کلن وم چې پلار مې پوربندار پریښود او راجکوټ ته ولاړ چې د راجستانیک قضا غړی شي. هلته زه لومړني ښونځي کې دننه شوم. هغه ورځې مې ښې په یادیږي، نومونه، ښونکي او ځیني نورې ځانګړتیاوې. د پور بندار په څېر په دغه وخت کې هم د زدکړې په باب د پام وړ شی مې نه یادیږي، یو عادي زده کونکی وم. له دغه ښونځي وروسته نیمه ښاري ښونځي ته ولاړم او بیا ورپسې لیسې ته، تر دولسم ټولګي پورې زما نه یادیږي چې ما دروغ ویلي وي، نه خپلو ښوونکو ته او نه خپلو ملګرو ته. زه ډېر آجزه او ګوښه ګره وم. زما کتابونه او درسونه زما یواځیني ملګري وو. د ښونځي له پرانیستو سره سم ټولګي کې او بندیدو نه وروسته سیده کور ته تګ زما ورځنی عادت و. ما به کور ته سم منډې وهلې. ځکه چا سره مې د ډیرو خبرو توان نه درلود.

زه د چا له ملنډو هم په دې باب کې نه شرمیدم. دلته د یوې پیښې ذکر مهم ګڼم چې د لیسې د لومړي په آزموینو کې پیښه شوه. ښاغلی ګیلز د زده کړو پلټونکی په کتنه راغلی و. هغه موږ ته پنځه لغتونه راکړل چې زموږ املا وګوري یو له هغو لغتونو څخه *چاینکه * ما د چاینکي ټکي غلت لیکلي و ځکه زده مې نه وه هغه ولیدم او اشاره یې وکړه چې له ملګري یې کاپي کړم. خو دا کار ماوه نه کړ، زه کاپي ګر نه وم . په پایله کې د ټولو لغتونه سم و خو زما یو پکې غلت. هغه دا خبره زموږ کور ته هم رسولې وه خو بې تاسیره وه وخت تیر و. د هغې دا حرکت په ما کوم تاسیر ونه کړ له هغې وروسته یې داسې نورې غلتۍ هم وکړلې خو زما په وړاندې د هغې لپاره د یو ښوونکي په توګه احتراک بدل نه شو، زه قدرتي د نورو خلکو خطا او غلتیو باندې یو شان ړوند وم او بله دا چې ما ته سبق شوی و چې د مشرانو احترام وساتم. دوه نورې پیښې د هماغه دوران تر اوسه زما ذهن کې پاتې دي. ما د خپل ښونځي له کتابونو پرته له نورو کتابونو سره هیڅ مینه نه لرله، لکه کوم دود چې وي. ما خپل ورځنی سبق او کورنی کار په خپل وخت پوره کاوه، نه مې خوښیدل چې پاتې راشم او نه مې خوښیدل چې دروغ ووایم. خو ډېرې وخت به مې ژور فکر وربانډې نه کاوه او میخانیکي به مې ترسره کړل نو که هر څه به ښه و ډېرې پېښتې به هم پکې نه وې. خو یوه ورځ مې سترګې په یوه کتاب ولګیدلې چې پلار مې اخیستی و.

دا کتاب د شره وانا پیتریباکتي نتاکا ( یوه هندي کیسه ده چې د شره وانا مینه ، محبت او وقف خپل مور او پلار ته ښیي) و. ما دا کتاب په ډېره مینه ولوست. دلته و چې زموږ ځای ته یوه تکراري ننداره راغله او یو له تصویرونوچي ما ته ښکاره شو د شره وانا و چې په یوه

غړوندئ کومه يې چې اوړو ته جوړه شوې پکې خپل ناروغه او ړانده مور او پلار معبد ته بيايي. دې تصوير او هغه کتاب زما په ذهن او روحياتو بې سارې او نه هيريدونکى اسر وغورزولو. دا دى يو مثال زما لپاره چې کاپي يې کړم ، له ځانه سره مې وويل . د شره وانا د مور او پلارد غمجن کړاو وير او نغمه تر اوسه هم زما په غوګونو کې تازه ده. ما وروسته هغه نغمه په ارمونه کې وږغوله کړمه چې پلار راته اخيستې وه.

همداسي ورته پيښنه له يوې بلې ننداري سره وه. دا ننداره هاريش چندرا نوميده چې زما لپاره ډيره په زړه پورې وه. زه به يې په بيا بيا کتو هيڅ وخت نه وى ستړى شوى. خو پوښتنه داده چې ما د ننداره کتلو لپاره کله او څومره اجازه لرله؟ دې ننداري زه ډير عملي کړم او ډير ځلې به مى د هاريش چندرا اکټونه کړي وي، هغه د رښتيا په نوم ډيرې ناخوالې تيرې کړې او قرباني ګني ګانې يې ورکړې. زما د ژوند او کار يو علط يا ماډل کيدى شي چندرا اوسي. ما د هغه په کيسه داسې فکر کاوه لکه رشتيا چې وي او د هغه په ناخوالو مې ژړلي هم دي. زما فکر راته وايي چې کيدى شي هاريش چندرا او شره وان دواړه په تاريخ کله تير شوي هم نه وي. خو زما لپاره هغوئ ريښتياني خلک و په يو تاريخي پړاو کې، زه په دې باور لرم که چيرې اوس هم هغه ننداره وګورم اوس به هم ترې ډير خوند واخلم.

## د ماشومتوب واده

هر څومره چې غواړم چې له دې څپرکي تير شم او نه غواړم چې ويليکم خو په دې کيسه کې به داسې نورې ترخې خبرې او زما د ژوند پړاونه وي چې سترګې پرې نه شم پټولې. او بله چاره هم نلرم که دا دعوا هم کوم چې زه د رښتيا عبادت کوم. دا زما دنده ده چې دلته د خپل واده کوم چې په ديارلس کلنى کې ما کړى رجستر کړم. کله چې زه نورو ماشومانو ته ګورم کوم چې زما د هغه وخت يعني ديارلسو کلو په عمر دي ، يو څه په ځان افسوس کوم او هغوئ ته چې ګورم خوښيږم او ورتا مبارکي وايم ، ښه دې چې زما په څير نه دي شوي. زه د داسې غير طبعي او بې منطقه واده لپاره هيڅ استدلال او عذر نه لرم. لوستونکى دې خطا نه شي، زه کوژده شوى نه يم، ما واده وکړ.

ځکه چې په کټياود کې دوه ډوله ودونه کيږي يو داسې چې په ماشومتوب هلک او جلکۍ يو بل ته کوژده کيږي، د دواړو د مور او پلار له خوا البته پرته له دې چې خپله هلک هو جلکۍ په دې مسله خبر هم شي او دا د کوژدې تړون يوازې د دواړه خوا د کورنيود مشرانو تر منځ وي تو نه ماتيدونکى دى.

ما ته ډير وروسته پته ولګيده چې زه هم مخکې له واده درې ځله کوژده شوى وم خو درې واړه کوژدې مې په ماشومتوب کې مړې شوې وې . زما وروستۍ کوژده په وه کلنۍ کې تر سره شوې ده له کومې چې زه ډير وخت وروسته خبر شوم. په دې څپرکي کې زه د خپل واده کيسه کوم کومه چې زما پوره پياد ده . لکه څنګه مې چې وويل موږ درې ورونه و، لومړى خو واده شوى و. کورنۍ تصميم ونيولو چې زما دويم ورور ما او زما ترورزى په يو ځل واده کړي. هغوئ ته زموږ هيلي او له واده وروسته ژوند په پام کې نيول نه بلکه خپل اقتصادي حالت په نظر کې نيول ډيره مهمه خبره وه.

په هندوانو کې واده کول عادي خبره نه ده. د ناوې او زوم کورنۍ پکې د خپل ژوند شتمنى ، وخت او صحت ته له حده زيات تاوان رسوي. يوه واده لپاره هره کورنۍ په مياشتو مياشتو

تياري نيسي هر يو غواړي په سيالۍ کې له يو بله مخکې شي. له جامو او توحفو رواخله تر قيمتي ګاڼو پورې د هر واده حتمي برخه ده. ډول ډول مراسم چې ډېرې شپې او ورځې نيسي نه يوازې خپل وخت ځايه کوي بلکه د ګاونډيانو ورځني ژوند ته هم خنډ منځ ته راولي. ښځي پکې په ساعتونو سندرې او نڅا کوي چې د ډيريو آواز يې د آوريدو هم نه وي، ځانونه پکې ستړي او ستومانه م کړي ځکه پوهيږي چې په دوئ هم داسې ورځ راتلونکې ده نو هر يو خپله برخه کار او شتون پکې ثابتوي.

نو زموږ مشرانو داسې فيصله وکړه چې دا ټول زحمات په يوه ځل وباسي ، که نه نو درې جلا وادونه به يې ډېر ژوبل کړي. زما پلار او تره دواړه زاړه وو او موږ يې اخري درې اولادونه پاتې و چې بايد واده شوي وی. نو که په درې وادونو هر څومره پيسې او وخت لګيدی دوئ ورته چمتو وو. او داسې ښکاري چې هغوئ ښايي د خپل ژوند آخري خوښۍ يوځای او په ښه توګه تر سره کړي او څنګه مې چې وويل مياشتې يې ونيولې په تيارۍ باندې. موږ په تياريو بوخت و چې د کورنۍ له خوا موږ ته د واده خبرتيا راکړه شوه. که څه هم سم دستي زما لپاره يې يوازې د ی جشن معنا او خبرتيا لرله چيرې چې ډول او سرنۍ به غږيږي، نوې جامې به اغوستل کيږي بډايه ډوډۍ ګانې به خوړل کيږي او د نا آشنا نجونو سره به نڅا او سندرې کيږي، د جسماني او شهواني غوښتنو خيالونه پکې وروسته را پيدا شول. ددغه ورځو ځيني جزيات چې ډېر مهمه هم نه دي وروسته به ترې لنډه يادونه وکړم ځکه د دې ليکنې او څېړکي اصلي هدف څخه نه غواړم تر شا پاتې شم.

په دې وخت کې زه او زما ورور له راجکوټ څخه پورته بندار ته يووړل شوو چيرې چې د شوخي او مستي په زړه پورې خاترې لرم د مثال په توګه ځانونه به مو سر تر پښو په رنګارنګو مسالو ولړل او داسې نورې شوخياني چې اوس به له هغه خبرو تير شم. زما پلار هلته لوړ پوړی چارواکی و خو هغه لکه يو خدمتګار د خپل ايالت چارې مخ ته بوولې او بله دا چې د هغه ځای له ټاکور صاحب سره يې ډېر ښه مناسبات و او د هغې هم زما پلار ډېر خوښيدۍ او تر پايه پورې يې زما پلار بل ځای ته د وظيفې لپاره نه پريښود خو کله چې پلار مې بله وظيفه تر لاسه کړه ټاکور صاحب موږ ته خاصې نوې موټرې د سفر لپاره تنضيم کړې چې د لارې سفر يې زموږ پوره دوه ورځې لنډ کړ. خو نصيب بل ډول فيصله وکړه.

پور بندار له راجکوټ څخه ۱۲۰ ميله لرې دی، په ګاډۍ کې د څه د پاسه د پنځه ورځو لار ده زما پلار دا لاره په دوه ورځو کې ووهله خو په وروستي پړاو کې يې ګاډی په لاره کې په بل مخ شو او پلار مې پکې ټپي، بلآخره پلار مې په بنداژونو کې راورسيد. زموږ ټولو خوښي او د واده تياري د پلار له ټپونو سره متاثره شوه خو د کلتور او عنعناتو له مخې د واده ټاکلی تاريخ څوک بدلوی شي؟ تياري او د واده نيټه بايد همداسې پر مخ تللې وی. ما هم د ماشوم توب په شوخي ، مستيو او د واده په خوشحاليو کې د پلار ټپونه او درد له ياده ولاړ. ما خپل مور او پلار ته ډېر احترام لرلو او په دې هم پوهيدم چې د هغوئ خدمت په ما فرض دی خو دا چې زما د ژوند ډېرې خوښۍ به د هغوئ د خوښۍ او خدمت لپاره قرباني کيږي وروسته پوه شوم . او همداسې لکه څوک مې چې د خوښيو په تور ملامت او جزا راکړي يوه پيښه رامنځ ته شوه داسې يوه پيښه چې تريخ احساس يې تر ډېره زما په ذهن باندې ناست و کوم ته چې به زه په دې ليکنه کې وروسته ارطبات ورکړم. نيشکول آنند په يوه سندره کې داسې وايي؛؛ ماديانو باندې سترګې نه پټيږي تر څو چې په نفس سترګې پټې نه کړې، هر څومره که ته زيار او ځنډ اوباسې** هر ځای او هر کله چې دا سندره وايم يا يې اورم هدغه بې ځايه عمل او پيښه زما د ژوند زوروي مې او پرې شرميږم.

زما پلار سره له دې چې ناروغ او ټپي و د واده په ټولو مراسمو کې يې برخه واخيسته. زما اوس هم د هغه څيره او حرکات او د ناستې ولاړې ځای په ياد دي چې څنګه يې په مراسمو کې په منظمه توګه رسم ادا کاوه. په هغه ورځ مې دا ګومان هم نه کاوه چې يوه ورځ به زه خپل پلار ددې عمل لپاره چې زه يې کوچنی واده کوړم ملامتوم. هغه وخت او هغه ورځ هر څه ښه ښکاريدل او زه هم خوشحاله وم. د ماشومتوب عقل او شوق زه هم ړوند کړی وم، زه هم واده ته ليوال وم. او بيا ټول هغه څه چې پلار مې په هغه ورځو کې زموږ لپاره کول، د انتقاد سوال پکې نه پيدا کيدلو. دهغه ورځې ټولې خبرې زما په ياد دي، څنګه موږ سره ناست وو، څنګه د واده په کوچ کښيناستو، څنګه مو سپنا پادي ( له اور څخه وه دورې تاويدل، هندو هوډ د واده) وکړه، څنګه ما او ميرمنې مې د يو بل په خوله کې خواږه ورکړل او څنګه مو ګډ ژوند پيل کړ، او و هغه لومړی شپه د واده. او په همدې ډول دوه ماشومان، بېخبره له دونيا نه د ژوند په سمندر کې لاهو شول . زما وررور مير منې د واده د لومړۍ شپې په هکله راته پوره معلومات او لارښونه وکړه، نه پوهيږم چې زما ميرمنې ته به چا لارښووونه کړې وي ، ما تر اوسه ترې پوښتنه نه ده کړې او نه په راتلونکې کې اراده د پوښتنې لرم. موږ دواړه په عمر کې يو شان و او دواړه له يو بل څخه شرميدو، خو يو ځايي ژوند انسان ته هر څه زده کوي او موږ هم ورو ورو له يو بل سره عادت شوو او ژوند مو سره پيل کړ.

## ځان ميره بلل

زما د واده په دوران کې يوه وړه رساله خپريده، ددې رسالې په يوه وړه برخه د کورني ژوند په هکله ليکنه کيده. دا رساله به ما هر وخت لوسته په تيره بيا د کورني ژوند څانګه. هلته به د ميړه او ښځې حقوق په تيره د ميړه حقوق ليکل کيده. يوه خبره به پکې بيا بيا راتله چې نارينه بايد ټول عمر خپلې ميرمنې ته وفا دار اوسي، هر وخت بايد يو بل ته رښتيني اوسي او داسې نورې خبرې. رښتينولي خو هسې هم زما په ذهن کې له پخوا ليکل شوې وه او د بې وفايي فکرونه له انسان سره په هغه واړه عمر کې هسې هم نه رازي. خو  د دې رسالې په لوستلو چې کوم بدلون ما کې راغی هغه دا و چې زه بايد د خپلې مير منې پوره ميره اوسم هغه هم په داسې ډول چې د هغې هرحرکت بايد زما په خوښه او اجازه وي، دا يو منفي بدلون و. زه په حقيقت يو کستمن ميړه شوم او بې ځايه مې په ښځه باندې شک او حکمراني پيل کړه. پس له هغې دا زما د ميرمنې دنده شوه چې زما خدمت به کوي او د هغې هره ناسته ولاړه به زما په اجازه او څارنه وي، ما داسې فکر کاوه چې دا ګونې زما د ميړه توب حق هم دې. کله چې سړی کستمن شي بيا ورته ا ستدلال او حق نا حق نښکاري يو ډول شکمن طبيعت ځان ته غوره کوي کنه زموږ تر منځ هيڅ داسې خبره يا کار نه و شوی چې ماته  د ميرمنې له خوا د بې وفايي علت راکړي. په هر ډول د هغې هره ناسته ولاړه زما د اجازې پرته نه شون کيده حتا تر دې پرې چې د عبادت ځای ته هم له ما پرته تلای نه شوه.

کستربهايي هم عادي ښځه نه وه چې په چوپه خوله او بې جنګه زما هر امر او خواهش ومنې. زما ډير بنديزونه د دې سبب شول چې زموږ په مناسباتو کې يو تريخ زړی وکرل شي.

هر ځل به چې ما له کوم کار يا حرکت څخه منع کړه هومره به زموږ تر منځ جګړې ډيرې شوې او هغې به زما له زد ځان ته آزادي د تګ راتګ ډ يره کړه. دلته موږ دوه ماشومان و چې خوښتل يې لوبې وکړي، خپلو ملګرو سره وګوري او داسې نور، هغه وخت زه په دې نه پوهيدم چې که زه ځان ته دومره حقوق ورکوم نو هغه ښځه ده زما ښځه کستربهای هغه هم

حقوق لري . خو اوس چې زه پرې فکر کوم ټوله ګنا د کم عمره او بې وخته واده کولو وه. لوستونکی دې داسې فکر ونکړي چې ښاي زما بندیزونه او شخړې له ډیرې مینې یا د کستربهای د ښکلا له سوزیدو یا ډاریدو له وجې شوي دي. ما غوښتل له هغې ځخه د ځان هم غبره جوړه کړم، هغې ته هغه شیان ورزده کړم چې زما زده و. ما غوښتل هغه یوه ایدیاله ښځه اوسي. هغه یوه بیسواده جنۍ وه، طبیعتآ ساده او بې پروا او غلې نجلې وه. زما نه پیادیږي چې زما ښومځي ،زده کړې، خبرو او فعال ژوند هغه یو ځل هم دې ته پاروله وي چې هغه هم یکي برخه واخلي یا کوم احساس چې د ژوند او راتلونکي په هکله ما لرلو هغې ته هم یو شانی وي، ما غوښتل چې زموږ فکرونه سره یو وي، هغه هم له ما سره همدومره مینه وکړي لکه زه یې ورسره کړم. په داسې یو حالت کې چې مناسبات ډیر سره خراب شي او بیا هم جوړه له یو بل سره ژوند کوي حتمآ له یوې خوا مینه موجوده وي او زه باید اقرار وکړم چې هغه مینه زما مینه وه.

کله به چې په شومځي کې هم وم ټول فکر به مې له کستربهای سره و، کور ته تګ لپاره به بیقراره وم ما به کله نا کله د شپې تر ناوخته په بهانه خوب ته نه پریښوده او هغې به هم زما بې اساسو او بې موردو خبرو ته غوږ ایښی و. که چیرې د دندې او په ژوند کې له نورو اهدافو سره زما تړون نه وای او یا هم رښتین ولې زما په ذهن کې کوټې نه وای کړې نو کیدای شي چې تر اوسه هم د یو اجباري ژوند تر چتر لاندې مې کټ وای او یا به هم په کوم ناروغۍ وخته مړشوی وای.